

# پښتانهٔ

(د غني خان د کتاب ترجمه)

لسم باب

## سياست

ترجمه: عابد خان

هغهٔ د خپل ژوند مقصد او لار معلومه کړې وه، هغهٔ ځان له يوه بله مينه راپيدا کړې وه. د خپل قام، خپلو خلقو مينه، بايد پښتانهٔ را يو ځائے او متحد کړے شي او د هغوي تعليم او تربيت، اصلاح او تنظيم وکړے شي. باچاخان پښتنو له ورتلل او د هغوي سره ناسته او خبرې اترې کول شروع کړل، هغهٔ به د پښتنو پام د هغوي د ژوند سختو، بدحالو او تيارو پله گرځوو. هغهٔ کوشش کوو چې پښتانهٔ سوچ او فکر کولو ته اماده کړي. هغه په دغه کارکښې تر يو حده کامياب شو خو خپل ځان ته ئې خطرات پېدا شول. اول خو د هشنغر ساده باده خانان په يو جومات کښې راغونډ شول او په اتفاق ئې دا اعلان وکړو چې غفار خان دهغوي "باچا" دے.دغه وخت د برطانوي امپراتورۍ مقامي نمائندگانو خپل د مزاح حس (Sense of Humour) وبائيلو (هغه زبردست انگليسي حس مزاح کوم چې تاسو ته همېشه په پنچ " Punch" کښې په نظر راځي خو د يو انگرېز په سترگو کښې به ئې ډېر کم وينئ) د علاقې اسسټنټ کمشنر سره د سپاهيانو او توپو راورسېدو او د کلي محاصره ئې وکړه. د کلي د خلقو نه ئې وسله راټوله کړه او هغوي ئې پنځهٔ شپېتهٔ روپۍ جرمانه هم کړل. کمشنر صېب بيا په خپله ماته گوډه پښتو کښې د کلي خلقو ته د پېرنگي حکومت د زور او طاقت په حقله يو ليکچر ورکړو او شپېتهٔ درانهٔ مشران پښتانهٔ ئې گرفتار کړل چې کله دغه جرمانه ورکړې شي نو بيا به ئې راپرېږدي. په دغه جلسه کښې بهرام خان هم شامل ؤ څوک چې دغه وخت خواوشا پنځه اويا کلن ؤ او تر دغه وخته د انگرېزانو ښهٔ وفادار او ملگرے پاتې شوے ؤ. دغه ټول مشران د کوم سنجيده بغاوت نه هومره لرې او پاک وو څومره چې بهرام خان ؤ خو دغه بې عزتۍ د هغوي ټولو په زړونو کښې نفرت او بغاوت راپېدا کړو. هغوي په خپله کمزورۍ او بې وسۍ ډېر خفه وو. هغوي ته په اول ځل د خپلې غلامۍ او بې وسۍ تريخ احساس وشو. دخپل پښتون فطرت له کبله هغوي د سرکار د غلط فهمۍ لرې کولو او خپلې بېگناهۍ ثابتولو هيڅ کوشش ونهٔ کړو. هغوي په قهر غابنونه چيچل او پېرنگي کمشنر ته ئې په جار ووې " ډېره ښه ده، کهٔ تاسو مونږه باغيان گڼي نو د نن نه مونږ باغيان يو، ستا د حکومت لاس ازاد او په تاسو لعنت!"

عبدالغفار خان په گرانه د پانسۍ نه بچ شو. دغه پېښې هغهٔ له خپل نوم "باچاخان" وگټلو او تر نن ورځې پښتانهٔ هغه په دغه نوم پېژني او يادوي. دغې پېښې هغه د وېرولو په ځائے نور هم زړور کړو او هغهٔ له ئې د بلها خلقو مينه، احترام او ښهٔ نوم

گټلې ؤ. عـن تـر دې چې زوړ بهـرام خـان هـم اوس انګرېزانو ته بد رد وئيل شروع کړي وو او خپل زوئے ئې په دې زيات خوښ شوے ؤ چې د هغوي په ضد ولاړ او په اعصابو ئې سور شوے ؤ.

باچاخان يوه مدرسه پرانسته، هغۀ يو تنظيم "انجمن اصلاح افاغنه" جوړ کړو. د دغه تنظيم اغراض او مقاصد خالص سماجي او اصلاحي وو. دا يو ښخي غېر سياسي او مشنري تنظيم ؤ خو بيا هم هغه ګرفتار کړے شو او د درې کاله با مشقته قېد سزا ورکړې شوه کله چې هغۀ حکومت ته دا ووې چې علم او تعليم خو څه جرم نۀ دے او خپلو خلقو لـه پـه تعليم ورکولو خو هغوي د حکومت مرسته کوي نو هغه ته دا جواب ميلاؤ شو "صحيح ده خو کۀ چرې مونږ تاسو ته د پښتنو د منظم کولو او رابو ځائے کولو اجازت درکړو نو د دې خبرې به څه ضمانت وي چې سبا به دغه تنظيم د انګرېز حکومت په ضد او د هغۀ د مفاداتو په ضد کار نۀ کوي؟" باچاخان ورته ووې " تاسو په ما اعتماد او باور وکړئ!!" نۀ! " بالا و برتر او طاقتور حاکم په زور کښې ووې " تۀ کۀ ازادېدل غواړې نو د حکومت نه به معافي غواړې او دا ضمانت به ورکوې چې بيا به دغسې تنظيم سازي نۀ کوې" " آيا زۀ تاسو ته دا ضمانت درکړم چې زۀ به بيا د خپلو پښتنو سره مينه نۀ کوم او د هغوي د خدمت نه به لاس په سر شم؟"

باچاخان په ډېره حېرانتيا سوال وکړو ځکه چې هغه په ورکوتوالي کښې د انګرېزانو په يو مشن سکول کښې سبق وئيلے ؤ او د عيسائي انصاف او رحمدلۍ په حقله ئې ډېرې خوش فهمۍ لرلې.

"خو دا خدمت نۀ دے، دا بغاوت دے" بالا او زورور د باچاخان د پوهولو نه زيات د خپل ضمير د اطمينان دپاره دا جوب ورکړو دغه جادوئي حکم، دغه انګرېزي انصاف باچاخان له د درې کاله سخت قېد سزا او هغه بالا و برتر او طاقتور له د اوچت ګرېډ او زياتې تنخوا جزا ورکړه.



په دې دوران کښې هغه مدرسه ښۀ په وده او ترقۍ وه او تنظيم هم ښۀ منظم او متحرک ؤ. درې اوږدۀ کلونه تېر شول. باچاخان دجېل نه را ازاد شو. په وجود کمزورے شوے او ستړے ستومانه ؤ خو د هغۀ اراده او جذبه لکه د فولادو په شان کلکه وه. د هغۀ شنې سترګې په خپل کړاؤ او سختو فخر نه ځلېدې او د عزم نه ډکې او پرسکون وې. هغه کور ته راغے او د خپلو بې موره بچو نه ئې لاس راچاپېره کړل، ځان ته ئې رانزدې کړل او په رپېدونکو ګوتو ئې د هغوي د خوشحالۍ او جوش نه سرۀ شوي او ګرم مخونه ومږل. بهرام خان دغه ورځ ډېر خوشحاله



او په چرت کښې ؤ. هغه ټوله ورځ په حجره کښې ناست ؤ او په سوونو زرګونو مېلمنو باندې به ئې چائے هم څښلې او د انګرېزانو او د هغوی د نیاګانو په حقله ځینې تعریفي کلمات به ئې هم ورته اورول. په زرګونو پښتانۀ باچاخان ته مبارکۍ او کورته پخېر راغلي له راچلېدل. هلکانو به هغه ته په مینه او احترام کتل، جینکو او ښځو به په هغه پورې ټپې او سندرې وئیلې. پښتنو خپل تر ټولو لوئے باغي موندلے ؤ. د انګرېز سرکار له برکته پښتنو، د جنګیالو قام ځان له یو لارښود، یو قهرمان موندلے ؤ.

انګرېز سرکار سخت ناراضه او غصه ؤ چې دا جاهلان پښتانۀ په دغه باغي ولې ورپسې شوي او دومره مینه او احترام ورله ولې ورکوي. دوي ته زر تر زره سخت سبق ښودل پکار دي خو اول دغه کم عقله دنګ غټ سړے د مخې نه لرې کول ضروري دي. د باچاخان ګرفتار کول او سزا کول اسان کار ؤ ځکه چې هغه دومره لوئے او دومره نر ؤ چې پټېدل یا دوکه فرېب کول هغه نۀ شو کولے. هغه به هر ځۀ په ډاګه او په جار کول او پېرنګي سرکار ته ئې چیلنج ؤ چې ځۀ کولے شي نو کوي ئې دې. هغوي باچاخان بیا ګرفتارول او جېل ته ئې واچوو. په دې طمع چې هغه به پوهه شي چې د زورورو او دولتي واکمنانو سره به څنګه ګوزاره کوي. هغۀ ټولې سختۍ او تکلیفونه برداشت کړل. تشدد، قېد تنهائي، په لاس او پښو کښې د اوسپنې بېړۍ او ګندګي او غلاضت او سپږې وربې او لوږه خو تر ټولو زیاته د انګرېزانو د سپک ترینو او کمینه ترینو نوکرانو پیشارې او خنداګانې او بې عزتۍ او عن تر دې چې وهل ټکول

خو باچاخان به هره ورځ خپله برخه څلوېښت پونډه دانې په مېچن په خپل لاس دل کولې او هیڅ ګیله شکایت به ئې نۀ کوو، هغه تل یو بهترین قېدي ؤ، هغۀ به چرې هم په خپل خوراک کښې د چینجو شکایت نۀ کولو، هغۀ به دغه هر څۀ په چپه خلۀ زغمل او د خپلو قېد کوونکو او عذابوونکو سره به یې یوه داسې رویه ساتله چې تقریباً احترام ته نزدې وه. هغه د زور او طاقت لرلو باوجود ډېر نرم او پوست ؤ او د خپلو دښمنانو سره به هم نرم او مهربانه ؤ. هغۀ به هر چاته هر څۀ بخښل او د یو نۀ ختمېدونکي، نۀ ستړي کېدونکي صبر خاوند ؤ. هغۀ به تل خپل غم د مسکا لاندې او خپل دردونه د ټوقو ټقالو په پرده کښې پټ ساتل.

دا ځل چې هغه د جېل نه راووتو نو خپل ورومبے سیاسي احتجاج ئې شروع کړو او دې صوبې له د مکمل آئیني اصلاحاتو دپاره ئې جلسې جلوسونه شروع کړل.

نور بیا